# د رحمان بابا سبک او د هغه پېراويان

**(Rehman Baba School of Thoughts and his Followers)**

سبحان الله شهاب*

ډاکټر نور محمد دانش بېټني♦

**Abstract:**

Abdur Rehman Baba is considered one of the renowned Pashto poets.His poetry reflected the true pictures of the aspirations of Pashtuns. There are many famous Pashto poets in Pashto literature but Rehman baba has his own school of thought. It contains ethics and Sufism. Rehman Baba has has many followers who have followed his school of thought such as, Younas Khyberi, Mahin Khalil, mazula Momand, Gul Muhammad Kakar etc. The poetry of Rehman baba has inspired and reformed his society. His poetic construction is lofty and sublime and is still admired by many. Much has been written on the poetry of Rehman baba but the aspect of his school of thought and his folowers is still lacking. In this article an attempt shall be made to highlight that aspect.

**Key words:** renowned, aspirations, sublime, construction.

**تعارف**:

د پښتو ادبياتو په تاريخ کښې د شاعرانو پېژندنه او د هغوی د ليکنې طرز او روش په مسلکي توګه معلومول او څرګندول اړين دي، چې په دې برخه کښې د رحمان بابا سبک په پېژندنه بحث شوی دی، د پښتو شعر او ادب دغه مکتب د يوولسمې هجري پېړۍ له پيل څخه رامينځته شوی، تر دوولسمې هجري پېړۍ تر پاي پورې يې په کوزه پښتونخوا ، افغانستان، هند ، او نورو سيمو کښې دوام کړی دی.

د دې ادبي مکتب په پیاوړو او نومیالیو پیروانو کښې د یونس خیبری، مهین خلیل، معزالله مومند، اخوند ګدا، په کوزه پښتونخوا کښې،عبدالنبي بيټنی، ګل محمد کاکړ، حاجي جمعه بارکزی او عبدالوهاب اڅکزی په افغانستان کښې، عبدالرسول، ملا لتاړ شلماني، رحمت داوي، محمد قاسم علي خان په هندوستان کښې، ګل محمد افغان هوتک، عبدالرحيم هوتک، عبدالباري ګدا ، احمدشاه بابا ، شېرمحمد هوتک په بخارا کښې او د نورو نومونه د يادونې وړ دي.

د عبدالرحمان بابا سبک په کوزه پښتونخوا کښې پيل شو او بيا د پښتني ولسونو په ټولو سيمو کښې په پراخه پيمانه دود شو، په دې سبک کښې د اشعارو مضامين ساده او نصيحتي بڼه درلوده.

---

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar.

♦ Assistant Professor ,Pashto Academy University of Peshawar.

د رحمان بابا د سبک په اړه ځینې نورې تیت او پرک لیکنې موجودې وې خو داسې کوم ماخذ زما لاس ته رانغلو، چې د یادې موضوع په بشپړولو کښې مې ترې په خلاص مټ کار کړې وی او د خپلې څېړنې تیاره کونجونه مې پرې رڼا کړي وی؛ خو بیا هم د الله ج په مرسته مې وکولی شول، چې د خپلې پوهې په اندازه مې یاده موضوع ولیکله.

د رحمان بابا سبک په ټولو خواوو هر اړخیزه بحث شوی دی. یاده موضوع کښې د سبک پېژندنه، رحمان بابا سبک پېژندنه او د رحمان بابا د سبک تاریخي بهیر بلاخره موضوع د پایلې او ماخذونو په ښودلو سره راټوله شوې ده.

**سبک پېژندنه:**

سبک هغه خاص دود یا طرز دی، چې یو شاعر یا هنرمند د هغه په اساس خپل احساس او ادراک بیانوي؛ یا د افکارو د بیانولو خاص ډول.

سبک د یو ادبي اثر له مشخصاتو څخه یو دی، چې د هغه په وسیله یو اثر له ورته اثارو څخه را بېلېدای شي، د سبک حقیقي مانا د سرو یا سپینو زرو ویلې کول او په قالب کښې اچول دي، مجازاً د بیان او څرګندونې خاص دود ته ویل کېږي، یا په ښه او زړه وړونکښې توګه د کلماتو اوډنه ده.

سبک پېژندنه هغه پوهنه ده، چې د یوې ژبې د بېلو بېلو سبکونو څخه غږېږي(1)

سبک عربي کلمه ده، چې په حقیقي مانا د زرو (سرو او سپینو زرو) د ویلي کولو او په قالب کښې د اچولو په معنی راځي او په مجازي معنی سره د بیان او لیکلو د اظهار خاص ډول، طرز او قسم ته سبک وایي .(2)

د عربي د سبک په مقابل کښې اروپایان د(style) که څه هم، چې د ستایل لغت د سبک په نسبت زیات جامعیت او ارتوالی لري ځکه، چې د غربیانو(style) د ټولو کړو وړو، لکه:(نڅا ، رسم او داسې نورو) لپاره، چې په یو خاص او ممتاز ډول سره وي استعمالېږي، د فارسي ژبې پخوانیو ادیبانو به د سبک پر ځای د فن، طرز، سیاق، طریقه، شیوه، اسلوب، دا او داسې نورې کلمې استعمالولې؛ مګر اوس د سبک کلمه ډېره تعمیم شوې ده (3).

(style) لاتیني کلمه ده، چې له (stilus) څخه مشتق شوی دی، ستیلوس داسې آله وه، چې د هغې په وسیله به پر مومیایي تابلو ګانو باندې لیکنې کېدې، د دې لپاره چې دغه اله یو واضح او تېز تاثیر ولري باید محکمه او تیره جوړه شوې وي او هر چا به، چې په دغه فن کښې مهارت درلود، د خلکو له خوا به یې ستاینه او نمانځنه کښېده، د دې په خلاف هر چا به، چې کلکه او تېره نه شوه جوړولی، د ملامتیا وړ و. دا کلمه وروسته اصلاح شوه او معنی یې هم وسعت پیدا

کړ، د سټایل لفظ د کره کتنې (نقد) په لاړ کښې د نقاد لپاره د یوه معیار او محک حیثیت لري، چې دهغې په وسیله خپل تصویب یا مخالفت ښکاره کوي.

ځینې ادیبان سبک په ډېر ساده ډول تعریفوي او ځینې نور دغه اصطلاح په ډېر احتیاط او دقت سره استعمالوي د سبک په باره کښې دوه ډوله تصورونه شته، چې د اپلاټون او ارستو (او له هغه نه پخوا) وختونو ته راجع کېږي.

د اپلاټون د مکتب له نظره ځینې عبارتونه سبک لري او ځینې يې نه، په داسې حال کښې، چې د ارستو د مکتب له نظریې سره سم ټول عبارتونه سبک لري، مګر د ځرنګوالي له مخې یو تر بله توپیر پیدا کوي، اپلاټوني مکتب پر هغو مضمونونو بحث کوي، چې هغه سبک لري او کنه، ارستويي مکتب د لوړ، ټيټ، ضعیف او قوي، ښه یا بد سبک په باب څېړنه کوي، د دې دوو مکتبونو د اختلاف په وجه د سبک تعریف اشکال لري او باید یو جامع تعریف په نظر کښې ونیسو:

> سبک د کره کتنې اصطلاح ده، چې د ځینو په نظر نوع او د ځینو نورو په نظر یو کل دی، چې د هغې په وسیله د افادې وصف یا ډول پېژندل کېږي، د یو بل تعریف له مخې سبک د کلماتو هغه ترتیب ته وايي، چې په خورا ښه ډول د لیکونکي شخصیت، مفکوره او ذهني نظر څرګند کړي، ډېر ښه سبک هغه دی، چې د لیکونکي یا ویونکي ذهني مفکوره عیناً تمثیل کړي؛ که څه هم د دغه مقصد لاس ته راوستل ډېر ګران دي؛ مګر لیکونکي زیار باسي تر کومې، چې بشري محدودیتونه اجازه ورکوي، دغه مقصد تر سره کړي، سبک له دوو عنصرو څخه مرکب دی، مفکوره او د لیکونکي شخصیت، چې په بشري ټولنه کښې هېڅکله هم دوه تنه عین شخصیت نه لري؛ نو ځکه مونږ عین سبکونه نه شو موندلی، حتی د یوه سړي شخصیت هم په مختلفو وختونو او جلا شرایطو کښې یو ډول نه وي، له دې امله هغه سبکونه، چې د یوې کتبه ګورۍ لاندې راځي په نسبي ډول مطالعه کېږي، په یوه سبک کښې هغه څه، چې لوستونکي درک کوي یوازې لیکل شوې مفکوره نه ده؛ بلکې ځینې نورې ضمني اشارې (Connotation) ورسره شته، همدغه ضمني اشارې دي، فکرونو ته رنګ ورکوي او د رنګونو توپیر او ترکیب پخپل ذات کښې ډېر اهمیت لري دلته زما مقصد له (رنګ) د لیکونکي احساسات او ذهني حالات دي، چې د یو فکر د افادې پر ډول اغېزه کوي. (4)

څېړنوال محمدحکیم تڼیوال د سبک پېژندنې په اړه داسې څرګندونه کوي: په پراخه مانا سره سبک نه یوازې په شخص باندې اطلاق کېږي او نه د یوه شخص په باره کښې وي؛ بلکې کله کله د څو لیکوالانو او هنرمندانو د لیکوالۍ طرز، د فکر لاندې او د دوی نور مناسبات د اثارو نه

را اخلي او د هغو د مشابه خصوصیاتو او صفاتو پر اساس یوه ډله ځنې جوړېږي، چې د همدغو صفتونو په اساس د یوې ډلې او بلې ډلې تر منځ د سبک له مخې جدايي او بېلوالی راځي، په پراخه او نامحدوده مانا سره سبک د یوه لیکوال او هنرمند په اثارو کښې ټولو هغو علامو، نښو او نښانو ته ویل کېږي، چې یو هنرمند او لیکوال له بل هنرمند او لیکوال څخه د لیکوالۍ د طرز او فکري بېلوالي په اساس بېلوي.

خو څه موده وروسته سبک خپله لومړنۍ مانا له لاسه ورکړه او په دویمه مانا سره استعمال شو، چې دویمه معنی یې «د لیکوال خط» و او په دې مانا سره د لیکوال خط پېژندل کېده.

په دویمه مرحله کښې سبک د لیکوال د فکر طرز او یا د لیکوال د لیکوالۍ طرز ته وویل شو او د لیکوال دغه فکر او د لیکوالۍ طرز په لاندې دوو ډولونو پېژندل کېده:

۱.په فکري لحاظ.

۲.د ژبې یا دلیکوالۍ طرز په لحاظ.

چې د همدې خصوصیاتو له مخې اوس هم لیکوال پېژندل کېږي او پخوا هم پېژندل کېده، په دغه مرحله کښې سبک د یوه خاص لیکوال د ټولو اثارو ادبي او هنري ممیزاتو لپاره استعمال شو، چې په دې صورت کښې سبک پخپله لیکوال شو او د لیکوال مانا ترې واخیستل شوه.

> د یوه لیکوال سبکي وحدت له هر څه د مخه د هغه ټاکلي هنرمند په هنري اثارو کښې ښه احساس کېدای شي، ځکه، چې له یوه پلوه د یوه لیکوال ځانګړی طرز له لیکلو څخه معلومېږي او له بل پلوه یې د یوه لیکوال د ادبي او هنري قهرمانانو په کرکټرونو کښې لیدلی شو، نو سبک له مونږ سره په هنري ژوند کښې همدا مرسته کوي، چې د سبک په واسطه مونږ کولی شو، یو هنرمند وپېژنو او یو قهرمان د ده د سبک په واسطه معلوم کړو. (5)

**د رحمان بابا پېژندنه**:

> عبدالرحمان مومند د پټې خزانې د روایت په مطابق د عبدالستار زوی، په ۱۰۴۲هـ ق کال د پېښور د سیمو په بهادر کلي کې زېږېدلی دی.(6)

رحمان بابا په بهادر کلي کې چې له پېښور څخه درې څلور میله لیرې جنوب اړخ ته پروت دی، له عبدالستار مومند کره وزېږېده. پټه خزانه د محمد الرسول کلاتوال د بیاض له مخې د رحمان بابا د زېږېدو کال ۱۰۴۲هـ ق کال ښيي.

رحمان بابا د پښتنو د روایتي سلسلة النسب له مخې سړبن په سړبن کې غوریاخېل په غوریاخېلو کې مومند، په مومندو کې دویزی او په دویزیو کې ابراهیم خېل دی.

راوړتيې رحمان بابا په مومندو کې غورياخېل بولي، خو څرنگه چې مومند د غورياخېلو ښاخ دی نو ځکه نوموړې ختيځ پوه تېروتنه کړې ده.

رحمان بابا د راوړتيې په قول له خپل کلي څخه هزارخانۍ ته راغی او دلته اوسېده. رحمان بابا له ملا محمد يوسف يوسفزي څخه درس ووايه او د زده کړو لپاره يې کوهاټ او هندوستان ته هم سفرونه وکړل.

رحمان بابا د خپل وخت مروجه علوم لوستي وو، په فارسي او عربي ادب کې يې مطالعه درلوده. رحمان بابا د تصوف له رموزو هم اگاه و. (7)

سره له دې چې رحمان بابا عاشق سړی و، ځان له قومونو پورې نه تړي، په يوه بيت کې وايي:

زه عاشق يم سرو کار مې دی له عشقه
نه خليل، نه داودزی يم نه، مومند (8).

خليل د غوريا (غورياخېلو) کند او خرښبون له لوري د سړبنو يوه پښه ده.

**د رحمان بابا سبک**:

د پښتو ادب په منځنۍ (کلاسيکه) دوره کې( بايزيد روښان، خوشحال خان خټک، عبد الرحمن بابا او عبدالحميد مومند ) د داسې لوړ استعداد او پوهې درلودونکي شاعران دي، چې همدغو شاعرانو په خپلو اشعارو کې داسې نوی تحول او بدلون را منځته کړو چې هر يو يې په جلا او ځانگړي توگه سبک لري او ځينو نورو شاعرانو د دوی لاره ونيوله او ځانونه يې د دوی پيرو وبلل.

دا هغه پښتانه شاعران دي، چې د دوی د پېژندنې په اړه به داسې پښتون نه وي، چې دغه د شعر او ادب مشران به نه پېژني او نه به يې ستايي ځکه چې همدغو مخکښو څېرو د پښتو ادبياتو هغه تياره کونجونه رڼا کړل، چې زمونږ په تحريري ادب کښې د ځينو ستونزو له امله ټکني شوي وو.

د خوشحال خان او رحمان بابا پېژندنه، چې دا دواړه د يو وخت او زمان شاعران دي او په يوه وخت کې يې ژوند کاوه، خو د بېلا بېلو سبکونو خاوندان وو؛ سبک په هنر او ليکوالي کې يو ځانگړی طرز، روش او لاره ده، چې هر ليکوال او هنرمند د خپل سبک په واسطه پېژندل کېږي او سره بېلوي يې.

مثلاً خوشحال خان او رحمان بابا دواړه مونږ ته خپل استقامت، صبر او ثبات بيانوي يا مونږ ته د مقاومت او زغم درس را کوي او راته وايي:

د عالم ډېرې خبرې د جهان تورې لښکرې
زړه مې نه خوځي له ځايه غر خو هسې وي کنه (9)

بيا رحمان بابا همدغه مقصد په دې ډول بيانوي:

لکه ونـــه مستقیم پـــه خپل مقـــــام یم
کـــــــه خزان راباندې راشي کـــــه بهار (10)

د خوشحال باتور شخصیت او رزمي احساساتو همدغه تقاضا لرله، چې د ډېرو لښکرو او ډېرو خبرو په مقابل کې خپل زړه لکه غر ځای پر ځای ولاړ وښیي او خپل زړورتوب په دغه ډول څرګند کړي، مګر رحمان بابا د خپل صوفیانه او عارفانه ژوند او احساس په غوښتنه بل راز فکر کوي او داسې یې تعبیروي، چې د ده له ذوق او نظر سره برابر دي، لکه یو حکیم د دنیا دوه رنګي، خزان او بهار، غم او خوشحالي په نظر کښې نیسي او انسان ته دا درس ورکوي، چې سړی باید د زمانې د حوادثو او انقلابونو په مقابل کې، لکه ونه مستقیم ودرېږي، چې نه یې د دنیا بهار له حده وباسي او نه یې خزان ملا ماته کړي.

دغه د سبک او لهجې اختلاف، چې د دې دوو سترو شاعرانو په وینا کې شته، په دې دوو بیتونو کې یې ډېر فرق راووست او په یوه مطلب کې یې دوه مضمونه پیدا کړل، په همدې ډول رحمان بابا او حمید مومند پر یوه موضوع باندې بحث کوي، د دواړو د موضوع ترمنځ توپیر نشته؛ خو د شکل او سبک توپیر یې فرق کوي؛ لکه چې رحمان بابا وایي:

چې له څنګه مې دلبر په لاس کې جام دی
نن اورنګ د زمانــې زمـا غــــلام دی(11)

همدا موضوع حمید بابا داسې وایي:

هر چې تا غوندې دلبر ئې په څنګ کښېني
د پښو پــه ځــای هغه تــه اورنګ کښېني (12)

په دې بیتونو کې د مضمون په لحاظ ډېر فرق شته او ځینې کلمات چې په یوه بیت کې راغلي دي په بل بیت کې هم په عین شکل استعمال شوي دي، خو بیا هم د رحمان بابا او حمید خبرې د سبک په لحاظ ښکاره توپیر لري او شعر پېژندونکي پوهېږي، چې شعري قوت او سبک یې یو راز نه دی.

رحمان بابا او حمید مومند د شعر او شاعرۍ رنګ په داسې ډول لرِ و ډېر ښیي، چې د دوی له شاعرانه فیضان او سپېڅلي نور څخه ډېر تیاره کورونه رڼا شوي او ډېرو ځایونو ته یې سپینې پلوشې رسېدلې دي.

رحمان بابا د ځانګړي سبک خاوند شاعر دی

یوولسمه هجري پېړۍ د پښتو ادبیاتو د رشد او پرمختیا لپاره یوه مناسبه پېړۍ وه. د پښتو ډېر لوی شاعران په دې هجري پېړۍ کښې را وزېږېدل، لوی شول او په پښتو ژبه یې اثار ولیکل او اشعار یې وویل.

د دغې پېړۍ ادبي تر لاسه شوي اثار دا راښيي چې پښتو شاعرانو هم دغه وخت په شعوري ډول د خپلو ادبياتو د غني کولو او ثيقلولو زيار ويستلی او د داسې اثارو د ايجاد خوا ته يې هڅه کوله، چې په سيمه کښې د موجودو ژبو له روان ادبي پرمختللي بهير سره يې اوږه پر اوږه کوټلي ګامونه پورته کړي دي.

که مونږ د يوولسمې پېړۍ په جريان کښې د پښتو ايجاد شوي آثار له نظره تېر کړو بې له شکه به مونږ ته څرګنده شي، چې په دې پېړۍ کښې ځينې داسې آثار په پښتو کښې ايجاد شوي دي، چې د منطقې له ادبي آثارو سره په تله کښې د اچولو جوګه دي، په دې پېړۍ کښې دغه راټوکېدلی پرمختللی ادبي جريان بيا په دوولسمه پېړۍ کښې د پرمختيا نويو پوړيو ته قدمونه کېښودل. نوي جريانونه او نوي ادبي او فرهنګي تمايلات يې را وزېږول.

په يوولسمې پېړۍ کښې د را پورته شوو شاعرانو په ډله کښې يو هم عبدالرحمان مومند دی، چې پښتانه له ډېرې مينې او زياتې عقيدې ورته (بابا) وايي او د پښتنو په عامو ولسونو او فرهنګيانو کښې په رحمان بابا مشهور دی، رحمان بابا د يو ځانګړي سبک خاوند شاعر دی، د ده سبک د خپلو خاصو ځانګړتياوو له پلوه په ولسي او فرهنګي حلقو کښې عالمګير شهرت او محبوبيت وګاټه او ددولسمې، ديارلسمې او څوارلسمې پېړۍ ډېرو شاعرانو د ده پسې اقتدا وکړه، پښتنو شاعرانو د لسان الغيب، سلطان الشعراء او واف (بلبل) لقبونه ورکړل.

مهين خليل د رحمان بابا د سبک پيرو شاعر دی، د بابا د شاعرۍ په باب يې نظر دا دی:

د رحمان سرېنې په څېر به نه شي
که ختک له څرمه واړه شاعران شي (13)

استاد عبدالحی حبيبي په پښتانه شعرا کښې د رحمان بابا د سبک په هکله وايي: د خوشحال خان د ژوند په زمانه کښې د پښتو د ادب پر اسمان يو بل ستوری هم ځلېده. له پېښور څخه پنځه ميله چپ خوا ته د بهادر کلي په يوه بېوزلې کورنۍ کښې يو هلک وزېږيده، چې عبدالرحمان نومېده. دا سړی مهمند سړبنی و. (14)

رحمان بابا پخپله هم ځان سړبنی بللی، لکه چې وايي:

يو کتاب په سړبن کښې چا ونه کړ
بې رحمان چې يې کړی دی کتاب (15)

کله چې عبدالرحمان لوی شو د پښتو ژبې يو لوی نوميالی او تر ټولو مشهور شاعر شو، ده يو مکتب په پښتو ادب کښې جوړ کړ او نوی سبک يې را وويست او ده په خپل روحانيت سره په خلکو ادبي او معنوي قوت داسې ومنلو چې تر اوسه يې ټول پښتانه بابا بولي.

چې مې مدحه د خوبانو کړه آغازه

هــــر کـــــــلام مې دلپذیر شـــو دلپسند
هغه کند چې خدای زما په خوله کښې کښېښود
حــــلويـانـو څخه نشـــــته هسې قــند
بې لـه عشقه کـه مې عیب کمه مې هنر دی
ما غوڅ کـــړی دی لــــه ځـانه بل پیوند
زه عاشق یم سر و کار مې دی لــــه عشق
نـــه خلـیل، نــه داودزی یم، نــه مومند
د عشق لار د تـوکـل پـــه پښـو غـوځېږي
نــه پـــه پښـو د ریـاضت او دیـانـت (16)

عبدالحلیم اثر رحمان بابا د کرویه تصوفي طریقې پېرو بللی دی، خو د رحمان بابا تصوف سړی له خدای او د خدی له مخلوق سره د ناپایې مینې په اظهار کښې خلاصه کولی شي، د استاد کامل په وینا «له خدای جل جلا له د هغه له مخلوق سره محبت د تصوف داسې اصول دي، چې له مذهب سره د بشپړ مطابقت، پاکۍ او عظمت له پلوه ډېر منل شوي دي.»

د رحمان بابا د شاعرۍ پیغام همدا محبت دی، عشق او محبت نه یوازې د انسان د نجات وسیله ده، بلکې د جهان د تکوین لومړنی محرک هم دی، لکه رحمان بابا چې وایي:

مکتب حـــال د مذهب وایــــــي
عشق ســـــوا دی لــــــه مذهبـه
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله وو مخلوقـاتـو پـلار دی دا (17)

د رحمان بابا ساده او عام فهمه شعر د هر چا او هرې سويې د خاوند د پوهې برابر دی، د ده شعر که اسان دی، خو ژور انساني مفاهیم یې پکښې را نغښتې دي، لکه چې وایي:

د خلیل تر کعـبې دا کعـبه ده لـــویـه
کــه اباد کـا څـــوک ویران حـرم د زړه
هـغه زړه بــه لـــه طوفانــه پـه امان وي
چــې کشتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي (18)

رحمان بابا د خپل شعر قالب د جوړولو لپاره د ډېرو ښکلو او مناسبو کلماتو په انتخاب کښې خورا لوړ استعداد لري، د ده خپل شعر لپاره داسې کلمات انتخاب کړي دي، چې پر هر لوستونکي او اورېدونکي ساحرانه اغېز ښندي. لکه لاندې څو بیتونه ګورو:

ستا د عشق حرفونـه تور نه دي ګلګون دي
هم پـه دا چــې نوشـتـه پـه جګرخـون دي

تش بـه نـه شي هغه خم د عشق لـه میو
چې یې خاورې د فرهاد او د مجنون دي
مقتولان ستا د غمزو دي لالـه نـه دي
چې په سره کفن لـه خاورو رابېرون دي
چې بها یې د زلمیو څخه نشـته
جونه نه دي جوړ ګنجونه د قارون دي
بادشاهان به په یو دم کښې ګدایان کا
ما لیدلـي فسـادونـه د ګـردون دي
د رحمان د زړه خوناب مګر قبول شه
چې مخونـه د دلبرو پرې ګلګون دي (19)

د رحمان بابا شعر که څه هم ساده دی، خو بیا هم په عینې ساده ګۍ کښې د هنر او ښکلا ټول معیارونه یې په پام کښې نیول شوي دي او د رحمان بابا شعر د خپل ځانګړي هنري او ښکلاییز جوړښت او انساني محتوی له امله خپل خاص خصوصیات لري او دی په پښتو ادب کښې د یوه نوي شعري سبک خاوند شاعر دی.

د رحمان بابا د شاعرۍ په تړاو محمداعظم اعظم وايي: د رحمان بابا د شاعرۍ د ټولو نه لوی او ځرګند خصوصیات د هغه د خیالاتو جوړښت او د هغه د بیان سادګي ده، د هغه لوړ تخیل، رسا فکر او د حقیقي جذبې چې کومه پانګه راټوله کړې، هغه یې ولس ته په یوه ښایسته او شایسته ولسي لهجه کښې وړاندې کړې ده.

> هغه د ولس دردونه په خپل ذات کښې جذب کړي، د انسانیت زخمونه یې په خپله سینه اخیستي او د بېروني ژوند غمونه یې په خپل وجود کښې رانغښتي دي، همدا وجه ده چې هغه د خپل زړه په ساز کومه نغمه چیړي له هغې نغمې څخه د سوز بځري شغلې کوي او هره خبره یې هر چا ته د خپل زړه خبره ښکاري او هر څوک پکښې د خپلو دردونو دوا لټوي.(20)

رحمان بابا د خپلو نغمو لپاره د خپل ولس ژبه او لهجه کارولې او غوره کړې ده او هغه خپل ولس ته په یوه عوامي پیرایه کې مخاطب کېږي

تـه چې ما تـه وایې چې پـه څه کوې ژړا
نـه درمعلومېږي دغه خپل چـورو جفا
تـه چـور و جفا کـړې زه ژړا کـوم دلبره
ستا که دغه نه وي دا به هم نه وي زما (21)

په ټولیزه توګه ویلی شو چې په پښتو ادب کې د رحمان بابا سبک هغه تشه ډکه کړې، چې مخکې د رحمان بابا، یونس خیبري او د دوی له پلویانو څخه پښتو ادب کې موجوده وه.

د رحمان بابا شهرت د خپل ځانګړي هنري ادبي سبک او د ښکلاییز جوړښت او انساني محتوی له امله خپل خاص خصوصیات لري او دی په پښتو ادب کښې د یوه نوي شعري سبک خاوند شاعر دی، ادبپوهانو د ده د سبک خصوصیات داسې ښودلي دي:

د رحمان بابا د سبک مشخصې ځانګړنې

۱ـ د رحمان بابا شاعري د پند، نصیحت او وعظ شاعري ده، د ده د ادبي مکتب پلویان زیاتره د اخلاقو او نصایحو د بیان خواته ډېره پاملرنه کوي، رحمان بابا وایي:

کر د ګلو کـــړه چـــې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مـه کره په پښنو کې بـه دې خار شي
تـــه چـــې بل پـه غشو ولـــې هسې پوه شه
چې همدا غشی به ستا پـه لور ګوزار شي
کـــوهی مـه کنه د بل سړي پـــه لار کـــې
چرې ستا بـه د کـــوهي پـــه غاړه لار شي
تـه چـــې هر چاته پـه خـوارو سترګو ګورې
لاړومبی به ستا صورت تر خاورو خوار شي
ادم زاد پـــه معنا واړه یو صـــــورت دی
هـر چـــــې بل آزاروي هـــغه ازار شي
کــــــه تـــه نـه کوې نظر د چا وعیب ته
هـــر سړی بـــه ستا د عیبو پـرده دار شي (22)

د رحمان بابا د اخلاقي، پند او نصیحت د شاعرۍ اساسي موخه د انسانیت د تکمیل خوا ته د خپلو خلکو لارښودنه ده، د همدې لپاره د وعظ او نصیحت شاعري کوي، چې د ټولنې او خلکو موجودو نیمګړتیاوو ته د خپلو عقایدو په پلوشو کې د بشپړېدو او ښه کېدو لارې چارې وښیي.

۲ـ عرفان او تصوف د رحمان بابا د شاعرۍ یوه عمده برخه جوړوي، چې د عرفان پیچلې مسئلې په ساده، روانه، خوږه او رنګینه ژبه بیانول، د دې سبک ستره ځانګړنه ده.

واړه د خپل ځان پـه نظر ګوره کـه دانا یې
ای عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی
زه د یـار مینې پــه یـار بـاندې شیدا کړم
کـه څـوک ما ګڼي زه نـه یم واړه دی دی
دا زمـا د یـار جـــلوه ده چـــې لیده شي

لکه نمر پــه صومعه پــه ســـومنات (23)

په بل ځای کې رحمان بابا وايي:

هر زيارت لــره چې ځم مراد مې ته يې
زه زايـر د بتخانې او حــــرم نــه يـم (24)

له دغو نمونو څخه مو منظور دا وه چې د رحمان بابا په شعر کې داسې نمونې زياتې ليدل کېږي چې هغه په عرفاني او تصوفي شاعرۍ پورې اړه پيدا کوي.

۳ـ د عربي او فارسي ژبو کلمات، اصطلاحات، تشبيهات او استعارات په پراخه پيمانه د رحمان بابا په سبک کې تر سترګو کېږي.

د ستا درد به په هزار درمان ور نه کړم
دانسته بـه دغه سـود پـه زيان ورنکړم
کـه څـوک را کاندې دنيا او عقبی دواړه
عاشقي به دې پـه اين او آن ور نـه کړم
کـه مې چرې لاس ستا په بوسه بر شي
دا نعمت بـه د جنت پـه خوان ور نه کړم
څو نه وينم ستا سترګې کـه يې خدای کا
عزرائيل لره بـه هومره ځان ور نـه کړم
معشوقـــې د عاشقانو دين ايمـــان دی
زه به چا لـره خپل دين ايمان ور نـه کـړم (25)

په پورتنيو بيتونو کې وينو چې د فارسي او عربي ژبې د کلماتو او اصطلاحاتو تر څنګ پکښې ډېر تشبيهات او استعارات تر سترګو کېږي.

۴ـ د رحمان بابا په سبک کښې پښتو شعر وده موندلې او د ده د سبک ډېرو پيرو شاعرانو ديوانونه ترتيب کړي دي.

۵ـ په دې ادبي مکتب کښې د پښتنې چاپېريال خپل رنګونه په ځلېدو دي او د هندي سبک اغېزه پکښې ډېره نه ليدل کېږي.

۶ـ د دې ادبي سبک د پېروانو په ځينو اشعارو کې د هنر او شاعرانه خيالونو نړۍ خپلې ځانګړنې لري، انځورونه او خيالونه يې ساده؛ مګر ډېر ښکلي او په زړه پورې له لوړ ادبي معيار نه برخمن دي.

د رحمان بابا د سبک پيرو شاعر معزالله خان مومند څو بيتونه د ښه وضاحت لپاره راوړم:

خاموش يـم هم ګـويا يم، لکه خط چـې د کتاب
هم ناست يم هم پـه تلـه يم لکه خس پـه سر د آب
هم خاندم هم ژړا کړم، د وريځ په دود مې کار شه

هم سم يمه هم کـــوږ يـم، لکه زلـفې د احباب
هـم ډېر يـم هم کمياب يـم، لکه قــول د معشوقـانو
سيرآب يم هم تشـنه يم، لکه وصل څوک په خواب
هم سـوځم هم غرېـنـه کړم معزالله چـې، لکه شمع
پښې بندې پــه رفـتار يم، لکه زروي پــه حساب (26)

۷ـ د دې ادبي مکتب پيروان د واقعيتونو بيان ته ډېره پاملرنه او توجه کوي له انسان سره مينه د دې سبک په اشعارو کې په ښکلي انداز بيان شوې ده او د خيال پلويتوب تابعيت پکښې ډېرکم وي.

چــې نيکي بدي پــه تلـه کښې تلل شـي
خــود پــه خپلـه تل واخلـه عـدالت کـړه
ژوندی ځان پـه زمکه ښخ کـړه لکه تخم
کــه لويــي غوارې د خاورو پــه مقام شـه
درست جهان د کمينې پــه خـوی وخوره
لکه زمکه هسې لاندې تـر اقـــدام شـــه
دهقان کـر پــه لـوړه زمکه بانـدې نـه کا
سر کـوزي کـوه چـې بڼ دې مرغزار شي (27)

له پورته بيتونو څخه جوته شوه، چې رحمان بابا په حقيقي او واقعي مانا خپله شاعري د خيال په سمندر نه ده لاهو کړې، بلکې انسانان يې په ښکلي انداز د شعر په ژبه عاجزۍ او عدالت ته رابللي د کبر، ريا او لويوالۍ څخه يې د نجات لار وربښودلې ده.

۸ـ د دې مکتب پيروانو له پښتو ژبې سر بېره په فارسي او هندي ژبو هم شاعري کړې ده، لکه: معزالله خان مومند، ميا نعيم متېزي، مطيع الله اونور.

۹ـدرحمانباباشعريسبکابهاماوپېچيدهګينهلري،دبياندولاو د انځور جوړونې شکلونه يې طبيعي او ساده دي.

کــــه پــه عقل پسې لاړم پـه کار نــه شــه
که له بخته مې يـاري غوښته يار نه شــه
غرونه غرونه خوب په څاڅکي اوبو تښتي
يار پـه سيند زمـا د اوښکو بيدار نــه شه
معلومېږي زه کـم بخت د درست جـهان يـم
چې د درست جهان دلدار مې دلـدار نه شه
مــا غندي او رقيب ستايـــي طالع ګـــوره

چې سرې ورته د سپي په مقدار نه شه (28)

که پورتنیو بیتونو ته په ځیر متوجه شو، نو پوهېږو چې ښکلي اصطلاحات په ساده او روانه ژبه پکښې بیان شوي او د انځور جوړونې شکلونه یې طبیعي او ساده دي.

۱۰- درحمان باباشعري سبک د مادیاتو او ریا خلاف دی او د فقیر مزاجۍ طرف خوښوي، چې قلندري د روحاني درجاتو یوه لویه درجه ده. رحمان بابا وایي:

خوبرویان به د سپوږمۍ توکړه را واخلي
که رحمان کچکول په لاس کښې قلندر شي
د ریا خرقه یې خدای مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی (29)

ډاکتر ستار خان لواغري وایي: قلندري او رښتیني عاشقي د اولیاء الله منصب دی، قلندر بابا د قلندرۍ او عاشقۍ اصطلاحات له رحمان بابا نه اخیستي دي.

د رحمان بابا سبک په ټولو پښتنو کې دومره ومنل شو، چې د ده د زمانې او بیا په را وروسته دوو درېو پېړیو کې له افغانستان، کوزې پښتونخوا، بلوچستان او په هندوستان سربېره حتی په بخارا او ماوراء النهر کې ځینو اوسېدونکو پښتنو شاعرانو دغه سبک ومانه او د رحمان بابا د نوي خوند او نوي رنګ لرونکي شعري سبک عالمګیر خاصیت په عمل کښې ځان څرګند کړ او هغه د انګریز ختیځ پوه پادري هیوز خبره چې یې ویلي وو:

چېرې چې پښتو ژبه ویونکي لري، هلته د محبوب شاعر رحمان بابا اشعار هم رواج لري او اورېدل کېږي.

د رحمان بابا ساحرانه شاعري همدومره قوت لري او د دې قوت یو علت دا دی چې رحمان بابا رښتینی عاشق دی، همدې عشق د ده وینا ته خاصه پیاوړتیا وربښلې ده، دا لاندې بیتونه د ده د عاشقانه شخصیت څرګندونه کوي:

که په ګنج د شاهي فخر شهریار کا
عاشقان یې د دلبرو په رخسار کا
خرقه پوشو په خرقه کې دی موندلی
هغه خط چې په دنیا یې دنیا دار کا
پتنګانو لره خدای په اور کې ورکړ
هغه عیش چې یې بلبل په ګلزار کا (30)

د رحمان بابا په شاعرۍ کې به د مجازي عشق څرک هم لیدل کېږي، ولې د حقیقي عشق زخیره پکې په پراخه پیمانه خوندي ده، چې دا د دې دادبي سبک اساسي برخه ده.

## حوالې


۱ ـ پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس. (دوهم ټوک). د چاپ زيار: عارف خان همدرد اوقاري سبحان الله وقار. کابل: د افغانستان د علومو اکاډېمي د ژبو او ادبياتوانستيټيوټ د ژبپوهنې څانګه. ميهن خپرندوىه ټولنه، مخ: ۱۷۳۶

۲ ـ روهي، محمد صديق، ادبي څېړنې، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۸۶ل) کال، مخ: ۸۴

۳ ـ تنيوال، څېړنوال محمد حکيم، د پښتو شعر سبکونه، کابل: علومو اکاډمي،د خپرونو رياست، بهير مطبعه، (۱۳۹۲ل) کال، مخ: ۱۷

۴ ـ روهي، محمد صديق، ادبي څېړنې، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۸۶ل) کال، مخ: ۸۵

۵ ـ څېړنوال محمد حکيم تنيوال، د پښتو شعر سبکونه، کابل: علومو اکاډمي، د خپرونو رياست، بهير مطبعه. (۱۸ مخ)، (۱۳۹۲ لمری ز).

۶ ـ هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبياتو تاريخ، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۷۹ل) کال،مخ: ۱۷۴

۷ ـ هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبياتو تاريخ، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۷۹ل) کال،مخ: ۱۷۴

۸ ـ صميم، محمداصف، د رحمان بابا ديوان نومښود، جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۵ل) کال، مخ: ۱۳۱

۹ـ تنيوال، محمد حکيم، د پښتو شعر سبکونه، کابل: علومو اکاډمی، د خپرونو رياست،بهير مطبع، (۱۳۹۲ل) کال، مخ:۲۰

۱۰ ـ همدغه اثر، ۲۰ مخ.

۱۱ ـ همدغه اثر، ۲۰ مخ.

۱۲ ـ همدغه اثر، ۲۱ مخ.

۱۳ ـ هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبياتو تاريخ، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۷۹ل)کال،مخ: ۱۷۴

۱۴ ـ حبيبي، عبدالحی، پښتانه شعرا (بشپړ متن)، د مطيع الله روهيال په زيار، کندهار: علامه رشاد خپرندويه ټولنه، (۱۳۹۱ل) کال،مخ: ۵۱

۱۵ ـ رحمان بابا، د رحمان بابا کليات، سريزه، يادښتونه او ويپپانګه: حنيف خليل،پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۸۴ل) کال،مخ: ۲

۱۶ ـ رفيع، حبيب الله، رحماني خم، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۸۷ل) کال،مخ: ۱۷۰

۱۷ ـ لواغري، ډاکتر ستارخان، رحمان پوهنه (څلورم ټوک)، پېښور: رحمان ادبي جرګه پېښور، (۲۰۱۲م)،مخ: ۲۵

۱۸ ـ راز، سليم، رحمان بابا (يوه فکري مطالعه)، پېښور: يونيورسټي پريس محله جنګي،(۲۰۱۳م)، مخ: ۳۳

۱۹ ـ الفت، ګل پاچا، پښتو سندرې، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۸۶ل) کال، مخ: ۱۰۴

۲۰ ـ اعظم، محمد اعظم، رحمن بابا د اولس شاعر، پشاور: عظیم پلشنګ هاوس، خیبر بازار، ( د چاپ کال نلري )، مخ:۷
۲۱ ـ همدغه اثر، ۱۸مخ
۲۲ ـ انځور، محمدزرین،دزړوپاڼوټول،جلال اباد :مومندخپرندویه ټولنه، (۱۳۹۴ل) کال،مخ:۱۲۸
۲۳ ـ همدغه اثر، ۱۲۳مخ
۲۴ ـ صمیم، محمد اصف، د رحمان بابا د دیوان نومښود، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، (۱۳۹۵ل) کال،مخ: ۱۵
۲۵ ـ رحمان بابا، د رحمان بابا کلیات، سریزه، یادښتونه او وییپانګه: حنیف خلیل، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، (۱۳۸۴ل) کال، مخ: ۲۱۱
۲۶ـ هېوادمل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، (۱۳۷۹ل) کال،مخ: ۱۷۹
۲۷ ـ تاتره، د پښتو ادبي بورډ د مطبوعاتو اووه پنځوسمه سلسله، مدیر اعلی: محمد اعظم خان، (۲۰۱۷م،جولائي ـ دسمبر )، مخ: ۸۰
۲۸ ـ احداد حمیدي، الیاس، د عبدالرحمن بابا دیوان، جلال کوټ: افغان خپرندویه ټولنه، (۱۳۹۵ل) کال،مخ: ۱۷۶
۲۹ ـ غزنوي، شاه محمود، کلیات سلطان محمود قلندر، پېښور: پښتو اکېډیمي، (۲۰۱۵م)،مخ: ۶۶
۳۰ ـ هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، (۱۳۷۹ل)کال،مخ: ۱۷۶